


**د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!**

---


**ضیا الدین « زلمی » ـ ننګرهار**



**د نشر نیټه : ۲۴ اګست ۲۰۱۳ میلادی**


# انټرنیټ څنګه وکاروو؟




**هره ورځ له پنځوسو څخه ډېر ځوانان چې ډېری برخه یې ځوان ژورنالستان دي، رسنیز کور ته د انټرنیټ، کمپیوټر او کتابتون استعمال لپاره راځي، ژورنالستان په ننګرهار رسنیز کور کې رپورټونه جوړي، خپل مرکز یا اژانس ته لیږي، په کتابتون کې کتابونه لولي او په انټرنیټ کې پلټنه کوي، خو ډېری ځوان ژورنالستان د کمپیوټر او انټرنیټ سره ډېر اشنا نه دي، ددغو ځوانو ژورنالستانو د پرله پسې غوښتو سره سم ننګرهار رسنیز کور دوی لپاره د انټرنیټ او کمپیوټر د زده کړي دوامداره کورسونه پیل کړ.**

**د انټرنیټ په برخه کې به دوی ته لاندې موضوعات تدریس شي.**

**انټرنیټ څه شی دی؟،**

**یو انټرنیټی پاڼه څنګه خلاصه کړو؟،**

**بریښنالیک څه شی دی او څنګه کارول کیږي؟،**

**یاهو مسنجر څنګه وکاروو؟،**

**سکایپ څنګه وکاروو؟،**

---

فیس بوک څنګه وکاروو؟ ا
و دته ورته نور موضوعات به په دغه کورس کې تدریس شي.
ننګرهار رسنیز کورد ۲۰۰۸ کال را پدېخوا په فعالیت پیل کړی، چې تر دې دمه پورې سلګونه ژورنالستان په دغه برخه کې روزلي او لا هم دوام لري.



تولو ته څرګنده ده چې انترنيټ د نړۍ د ټېکنالوژۍ جال په توګه د هر لوستي کس پر ژوند مثبت اغيز لري او انټرنيټ د کمپيوټر له ابتدايي زده کړې پرته نه شي زده کېدی ځکه نو ننګرهار رسنيز کور د سيمې ځوانو نارينه او ښځينه خبرياالنو ته د انټرنيټ او کمپيوټر د زده کړې مياشتني دوامداره کورسونه په الر اچولي.

په دې سره خو يو دا هدف تر السه شو، چې ځوانو خبرياالنو انترنيټ ته الس رسی وموند، د ميډياهاوس له فعاليتونو سره اشنا شول، بله دا چې دوی به له دې الرې د ميډياهاوس د ژورنالستيکي شبکې يا نيټ ورک غړې هم وګرځي.

دغه راز د رسنيو کور اصلی هدف، چې د خبرياالنو د ظرفيتونو لوړول او له دغه ظرفيت نه بيا په خپل مسلکي کار کې ګټه اخيستل دی، هم تر السه شي.
دا دی نن د شنبې ورځ د ۲۰۱۳ کال د اګست مياشتې په ۲۴ مه نېټه ننګرهار رسنيز کور د انترنيټ د زده کړې نوې صنف پيل کړ، چې۲۰ تنه ځوان ژورنالستان په کې ګډون لري.

******
ضیا الدین « زلمی»

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org